مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۲/۰۸/۲۸

هغه شاعره چې ځان وژنه یې وکړه

ساره شګفته پېغله اردو ژبې شاعره وه، چې ګوجرانواله کې پیدا شوه او د ۱۹۸۴ کال په جون میاشت کې یې کراچۍ کې د اور ګاډي مخې ته ځان اچوني سره ۳۰ کلني کې خودکشي وکړه.
هغه لیکي:
"یوه ماښام راته شاعر صیب وویل: ضروري خبره درسره کوم. بیا مو په ریستورانت کې سره ولیدل. هغه راته وویل: واده راسره کوې؟ په دوهم ملاقات کې مو رشته پخه شوه؛ خو د قاضي له پاره پیسې نه وې. ما وویل: نیم فیس ته له چا نه قرض کړه، نیم به زه را قرض کړم. دا چې د کورنۍ کوم غړی مې نه راځي؛ ګواه هم ته درسره راوله. له یوې سهیلۍ مې د واده ځانګړې جامې قرض کړې، ټاکل شوي ځای ته ورغلم او نکاح مو وشوه. قاضي له فیس پرته د میټایي (خوږو) یو ډبې هم را وغوښت؛ نو له مونږ سره ټولې ۶ روپۍ پاتې شوې. خپلې کوډلې (جونګړې) ته په رسېدلو، رسېدلو سره ایله ۲ روپۍ را پاتې شوې.
ما د لالټین په رڼا کې شال په سر اچولی و او د واده جامو کې ناسته وم .
شاعر وویل: ۲ روپۍ نه لرې، بهر زما ملګرې له کرایې پرته ناست دی .
۲ روپۍ مې هم ورکړې .
بیا یې وویل: زمونږ په خاندان کې مېرمنې نوکرې (وظیفه) نه کوي. له نوکرې مې هم لاس ومینځه.
کور ته هره ورځ تعلیم یافته شاعر او د هغه نقادان راتلل او د لوړو خلکو (اشرافو) په انداز (ستایل) یې خبرې کولې.
زه پوهه وم (د علم وحشت مې په خټه کې و)؛ خو کله، کله مې لوږه برداشت کولی نه شوه .
په کور کې هره ورځ فلسفه پخېده او منطق خوړل کېده.
یوه ورځ یې له جونګړې هم وویستلو، دا هم پردۍ وه. یو کوچنۍ نیمکله کور مو په کرایه ونیو. زه به په پوزې پرته وم او دېوالونه مې شمارل او د خپلې ناپوهۍ ښکار وم .
زما ۷مه میاشت وه، درد شدید و او ملا مې بیخي زیاته خوږېده. هغه په خپل علم مغرور له سترګو پورته کولو پرته لاړ او چې زما درد بیخي زیات شو؛ نو په چیغو مې د کور څښتن راغی، زه یې هسپتال ته یوړم .
زما په لاس کې یوازې درد او ۵ نغښتې لوټونه (کاغذي روپۍ) وو.
له یو څه ځنډ وروسته ماشومه (انجلۍ) پیدا شوه. هوا ډېره یخه وه، ما سره له ماشومې د تاوولو له پاره یوه تولیه هم نه وه. ډاکټر راته په مخامخ مېز ماشومه څملوله .
ماشومې د ۵ دقیقو له پاره سترګې خلاصې کړې او کفن یې وګاټه.
زما چې څنګه سترګې ډکې (اوښلنې) شوې؛ نرسې په وارډ کې څملولم. ما ورته وویل: زه کور ته ځم، ځکه په کور کې څوک هم خبر نه دي، چې زه چېرته یم؟
هغې په بې پروایي ځواب راکړ: ستا په جسم کې د زهرو خپرېدو ویره ده؛ همداسې ارامه او پرته اوسه! خو اوس ارام چېرته و؟ له ما سره د مړه ماشوم ۵ روپۍ وې !
نرسې ته مې وویل: نوره مې په روغتون کې ګزاره نه کیږي، د فیس روپۍ نه لرم. ځم چې را یې وړم. انشاء الله نه تښتم! تا سره مې مړ ماشوم امانت دی.
په پایو ښکته شوم، ۱۰۵ ډګرې (درجې) تبه مې وه. په بس کې سپره شوم، کور ته ورسېدم، زما له سینو شیدې بهېدې. شیدې مې په ګیلاس کې ورتویې کړې. په همدې وخت شاعر او نور یاران یې راغلل. شاعر ته مې وویل: «انجلۍ پیدا شوې وه، مړه شوه».

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هغه لنډ واورېدل او خپلو مریدانو ته یې خبر ورساوه. په خونه کې دوه دقیقې خاموشي وه او په دریمه دقیقه بېا خبرې شروع شوې:
د فرویډ په اړه څه فکر کوې؟
ران بو څه وایي؟
سعدي څه ویلي؟
او وارث شاه نه لوی سړی جوړ شوی!
دا خبرې مې هره ورځ اورېدلې؛ خو نن راته داسې ښکارېده، چې یو څه زیات (واضح) لفظونه اورم. داسې: لکه دا ټول لوی خلک چې د یو څه وخت له پاره زما په وینه کې ایسار شوي وي او داسې لکه ران بو او فرویډ چې زما له رحم نه په زوره ماشوم کشوي .
په هغه ورځ د لومړي ځل له پاره زما کره علم راغی او زما په وینه کې یې خندل .
زما د بچې پیدایښت وګوره!!!
یو ساعت خبرې جاري وې او خاموشي په حېرانو (خلاصو) سترګو ما ته کتل. هغوی د علم له پولې پورې وتل او له خونې بهر شول .
زه له زینو د یوې چیغې په څېر ښکته شوم. اوس له ما سره ۳ روپۍ وې. د یوې ملګرې لوري ته ورغلم، ۳۰۰ روپۍ قرض مې ترې وغوښت. هغې راکړې. بېا یې ما ته وکتل او ویې پوښتل: ستا طبیعت خراب دی؟
ما وویل: نه؛ بس لږ تبه مې ده. ډېره نشم ایسارېدلی، د یو قرضدار پیسې راباندې دي، هغه ورکوم؛ منتظر به وي.
روغتون ته ورسېدم. ټولې ۲۹۵ روپۍ بل جوړ شو. اوس له ما سره یوه مړه ماشومه او ۵ روپۍ وې. ډاکټر ته مې وویل: تاسې چنده را غونډه کړئ او ماشومې ته کفن ورکړئ، قبر یې چې هر ځای جوړوئ، جوړ یې کړئ. زه ځم! د ماشومې اصل قبر خو زما په زړه کې جوړ شوی و .
زه بېا په دوهمې چیغې له پوړیو ښکته شوم او پښې ابله پر سړک روان بس ته ور وختم. ډاکټر فکر کاوه چې ښایي د شدیدې صدمې له امله مې ذهني توازن له لاسه ورکړی. د بس کلېنر (کیلنډر) هم ټکټ را نه ونغوښت. خلکو هم عجیب را کتل. ما د کیلنډر په لاس کې ۵ روپۍ کېښودې او لاړم کور ته!
کور؟
هو کور!!
ورسېدم.
په ګیلاس کې شیدې ایښې وې.
تر کفن هم زیاتې سپینې!
ما په خپلو شیدو قسم وکړ، چې زه به شعر لیکم، شاعري به کوم، ما ته به شاعره ویل کیږي. له شیدو سړېدلو وړاندې مې یو نظم هم ولیکه. خو دریمه خبره درواغ ده. زه شاعره نه یم، ما ته دې څوک شاعره نه وایي، ښایي زه کله خپل ماشوم ته کفن ورکړم/ پیدا کړم.
نن له څلورو خواو د شاعرۍ! شاعرۍ! غږونه راځي؛ خو ما تر اوسه د کفن روپۍ نه دې جمع کړې."
...
#شیلی بیٹی کے نام!
تجھے جب بھی کوئی دکھ دے
اس دکھ کا نام بیٹی رکھنا
جب میرے سفید بال
تیرے گالوں پہ آن ہنسیں رو لینا
میرے خواب کے دکھ پہ سو لینا
جن کھیتوں کو ابھی اگنا ہے
ان کھیتوں میں
میں دیکھتی ہوں تیری انگیا بھی
بس پہلی بار ڈری بیٹی
میں کتنی بار ڈری بیٹی
ابھی پیڑوں میں چھپے تیرے کمان ہیں بیٹی
میرا جنم تو ہے بیٹی
اور تیرا جنم تیری بیٹی
تجھے نہلانے کی خواہش میں
میری پوریں خون تھوکتی ہیں
)سارا شگفتہ(

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د #شیلي لور په نوم!
که کله هم څوک کوم غم درکړي
پر هغه غم باندې نوم "لور" کېږده
کله چې زما سپین وینتان
ستا په غومبریو راشي وخاندي، وژاړه
زما د خوب په درد ویده شه
هغه کروندې چې اوس راشنې (راپورته) کیږي
په هغو کروند کې
زه ستا جامې (۱) هم وینم
بس په اول ځل وډاره شوم لورې
زه څو ځله وډاره شوم لورې!
اوس په ونو کې ستا کمان پټ دی لورې
زما زیږون ته وې لورې
او ستا زیږون ستا لور
ستا د مینځلو په خواهش کې
زما ټوله وینه تویږي

ژباړه: سمسور ودان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ